国家级教学成果二等奖系列教材

印度语言文学国家级特色专业建设点系列教材

# پښتو مطالعه

# 普什图语阅读教程(1)

王　静　缪　敏　何　杰◎编著



世界图书出版公司

国家级教学成果二等奖系列教材
亚非语言文学国家级特色专业建设点系列教材

PUSHITUYUYUEDUJIAOCHENG (1)

# 普什图语阅读教程(1)

王 静 缪 敏 何 杰◎编著



世界图书出版公司
广州 · 上海 · 西安 · 北京

**图书在版编目（CIP）数据**

普什图语阅读教程. 1 / 王静，缪敏，何杰编著. —广州：世界图书出版广东有限公司，2014.12
ISBN 978-7-5100-9100-1

Ⅰ. ①普… Ⅱ. ①王… ②缪… ③何… Ⅲ. ①普什图语—阅读教学—教材 Ⅳ. ①H735

中国版本图书馆CIP数据核字（2014）第281366号

## 普什图语阅读教程（1）

**策划编辑**：刘正武
**责任编辑**：魏志华　熊长林
**出版发行**：世界图书出版广东有限公司
（广州市新港西路大江冲25号　邮编：510300）
**电　　话**：020-84451969　84459539
**网　　址**：http：//www.gdst.com.cn
**经　　销**：各地新华书店
**印　　刷**：广东天鑫源印刷有限责任公司
**版　　次**：2014年12月第1版　2014年12月第1次印刷
**开　　本**：787mm × 1092mm　1/16
**字　　数**：198千
**印　　张**：11.75
**书　　号**：ISBN 978-7-5100-9100-1 / H·0886
**定　　价**：38.80元

**版权所有　侵权必究**

**咨询、投稿**：020-84460251　gzlzw@126.com

# 前 言

《普什图语阅读教程》为中国非通用语教学研究会会长、解放军外国语学院亚非语系主任、博士生导师钟智翔教授主持的国家级教学成果二等奖系列教材之一，也是国家外语非通用语种本科人才培养基地暨印度语言文学国家级特色专业点建设教材。

本教材是解放军外国语学院普什图语专业自2004年成立以来，在使用多年的阅读教材基础上，结合人才培养新需求，组织编写的一套普什图语阅读课配套教材。通过对本教材的学习，学生可以逐步提高普什图语阅读能力，掌握普什图语阅读技巧，培养准确理解和分析归纳的能力。

本教材课文均选用普什图语书籍、报刊杂志及网站的原文资料。选材力求题材多样，内容丰富，涵盖面广。在编写过程中，我们根据教学需要作了必要的修改。《普什图语阅读教程》分为两册，每册15课。每篇课文含主课文（لومړی برخه）及补充读物（دوهمه برخه）各一篇，内容相辅相成。每课由课文、生词、注释和课后练习四个部分组成。生词部分除汉语释义外，还配有读音。对部分能够通过工具书查到的词语我们未加注释。注释主要包括背景知识介绍、常用短语解释和难句解释。练习部分旨在检查学生对课文大意、基本观点、基本事实等的理解情况。书后附有词汇表，方便学习者查阅。

《普什图语阅读教程》作为普什图语专业本科教材，适合二年级学生使用，计划课时为64学时。教师在实际的教学过程中可以根据本校的具体情况加以适当的调整。

本教材在编写过程中，得到了解放军外国语学院亚非语系教材建设委员会、解放军外国语学院印度语言文学国家级特色专业建设点以及中国出版集团世界图书出版广东公司的大力支持，在此一并表示衷心的感谢！

由于编者水平有限，教材中难免会有一些错误和疏漏，希望各位专家、学界同仁不吝批评指正。

编　者

2014年9月1日

于解放军外国语学院

# فهرست

لومړی لوست ........................ 1
لومړی برخه : لوی اختر ........................ 1
دوهمه برخه : کار او د نړۍ د زیار کښانو نړیوال جشن ........................ 6

دوهم لوست ........................ 12
لومړی برخه : مشینی انسان ........................ 12
دوهمه برخه : د ګرځنده ټیلیفونو زیات کارول پر اوریدو ناوړه اغیزه کولای شي ........................ 17

دریم لوست ........................ 22
لومړی برخه : د ګلالۍ علاج ........................ 22
دوهمه برخه : زما ښوونکی او ټولګیواله ........................ 27

څلورم لوست ........................ 32
لومړی برخه : د خواری کښو کلی ........................ 32
دوهمه برخه : د ګاونډی حق ........................ 37



此为试读，需要完整PDF请访问： www.ertongbook.com

پنځم لوست ........................................ 42
لومړی برخه : ځو پښتو متلونه ........................................ 42
دوهمه برخه : د کال میاشتې او د کال لومړۍ ورځ ........................................ 47

شپږم لوست ........................................ 53
لومړی برخه : زه ښه شاګرد او ښه هلک یم ........................................ 53
دوهمه برخه : د قوم زړور بچی ........................................ 57

اووم لوست ........................................ 63
لومړی برخه : د لیک اهمیت ........................................ 63
دوهمه برخه : انسان لیکل څنګه زده کړل؟ ........................................ 68

اتم لوست ........................................ 73
لومړی برخه : هرات ........................................ 73
دوهمه برخه : د پېښور سیل ........................................ 79

نهم لوست ........................................ 84
لومړی برخه : په غارونو کې لټول ........................................ 84
دوهمه برخه : زه یو پیلوټ یم ........................................ 89

لسم لوست ........................................ 94
لومړی برخه : میرویس او ښوونځی ........................................ 94

دوهمه برخه : ډاکوان نیول ........ 99

یوولسم لوست ........ 105
لومړی برخه : انسان دوستی ........ 105
دوهمه برخه : غم او خوشحالي ........ 110

دوولسم لوست ........ 116
لومړی برخه : احمد شاه بابا ........ 116
دوهمه برخه : خپل ملیت ساتل ........ 121

دیرلسم لوست ........ 127
لومړی برخه : نظر لا لا ........ 127
دوهمه برخه : هېڅوک ونه پوهېد! ........ 132

څوارسم لوست ........ 139
لومړی برخه : زوړ سړی او د هغه جاغور ........ 139
دوهمه برخه : کجاوه راوړه ........ 144

پنځلسم لوست ........ 149
لومړی برخه : دوې لارې ........ 149
دوهمه برخه : نوی ژوند ........ 154
لغتونه ........ 160

# 第一课

# لومړی لوست

## لومړی برخه

### لوی اختر

پلار چه د بهر نه راغی نو مسکی مسکی کېده، اواز یي وکړ: "زرغونې، میروېس، گل څانګې، تاسو چېرته یي؟" "دا یو دادا ، دا دی درغه." دې سره درې واړه راورسېدل. پلار یي وویل، "تاسو ته یو زېری درکوم، ووایي، دا به څه وی؟" زرغونې وویل، "لوی اختر راروان دی. مونږ ته به دې نوې جامې راوړې وی."

"نه...... شاباس سوچ وکړئ"، پلار یي وویل. گل څانګې وویل، "چېرته چکر ته به مو بوځې؟"

پلار یي وویل، "نه، دا هم ټیک نه ده".

"زه پوه شوم! جمال کاکا راځی"، میروېس وویل.

پلار وویل "ډېر اعلی میروېس! جمال تره دې د بچو سره اختر ته را راوان دی." "واه واه! د اجمل او گلالۍ سره به اختر ډېر خوند وکړی"، زرغونې وویل.

بله ورځ هغوی راورسېدل. خوشحالی شوه.

د اختر نه یوه ورځ وړاندی نیکه، پلار او جمل کاکا د قربانۍ څاروو راوستلو ته لاړل. د وړو لارې ته سترګې وې. په دی کښی یي می می او بی بی واورېدل. په منډه بهر ور ووتل. پلار یي د ټانګې نه د قربانۍ څاروی راکوزول.

"دا څومره ښکلی برګی چېلی دی"! گلالۍ وویل. په ملا یي ښایسته شنه کپړه وه. گل څانګې سپین ګډوری ته اشاره وکړه او ویي ویل، "دا به زما وی". په وړی یي ژېړ او سور رنګ لګېدلی و. نیکه او پلار یي

د قربانۍ څاروی د کور په انګړ کښې په ونو پورې وتړل.

میروېس ورته د څښلو دپاره صفا اوبه راوړې او ورته یې کېښودې. اجمل ورته د خوراک دپاره د ونو تازه پاڼې راوړې. نیا په مینه د دواړو څاروو په ملا لاس راښکله.

ماښام ټول په برنډه کښې کښېناستل.

"مونږ قرباني ولې کوو؟" ګلالۍ پوښتنه وکړه.

نیکه وویل، بچو! یو ځل حصرت ابراهیم علیه السلام خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم. وو ایه ستا څه خیال دی؟ هغه ورته وویل ای پلاره! هم هغسی وکړه چه څه حکم در ته شوی دی. که خدای ته منظوره وی نو ما به صبر کوونکی ومومې. ابراهیم علیه السلام چه دا ځواب واورېد، نو خوشحاله شو.

حضرت اسمعیل علیه السلام یې صحرا ته بوت او هلته یې پړمخ څملاوه. په اصل کښې د الله د طرفه په پلار او زوی دا یو ازمیښت و چه دواړه پکښې کامیاب شول. الله تعالی د اسمعیل علیه السلام په ځای ګډ راولېږه او حلال یې کړه. د دې لویې پېښې په یاد کښې د دنیا ټول مسلمانان په لوی اختر کښې د څاروو قرباني کوي.



د اختر سهار ډېر مزېدار و. هر چا نوې جامې اغوستلې وې. د نمونځ نه وروسته قربانی وشوه او غوښه یې په خپلوانو، ګاونډیانو او غریبانو ووېشله.

مور اوچاچې یې په باور چی خانه کښې پخلی کاوه. وړو شاته غولی کښې لوبې کولې. مور یې ورته اواز وکړ. هغوی په منډه منډه راغلل. هلته په لوښو کښې د خوراک څېزونه اچولی شوی وو. د وړو خولې ور ته اوبه اوبه شوې. چاچی وویل، "شاباس بچو، دا غریبانو او ګاونډیانو کره یوسئ. بیا به مونږ ډوډۍ په یو ځای خورو. وړو زر زر لوښي اوچت کړل او په وېشلو یې شروع وکړه."

ماشومانو چه خوراک ووېشه او راغلل نو مور یې اواز وکړ: "راځئ ډوډۍ تیاره ده!" هغوی په منډه منډه

د ډوډۍ ځای ته راغلل. په دسترخوان باندې قسم قسم خوراکونه پراته وو او خوشبويي ترې ختله.

میروېس وویل،"واه واه، نن خو مور او چاچي زبردسته ډوډۍ کړې ده، څه ښکلي بویونه دي." ګل ځانګې وویلې،"د اختر ورځ نه ده څه! ټولو د مور د پخلي صفت وکړ. کاکا پاڅېدلو سره وویل،"بچو، ماښام له ځان تیار کړئ چه مېلې ته مو بوځم."ماشومانو چه دا واورېدل، نو د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېدل.

## 单词 لغتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| 好消息 | ［阳］ | /ze'rai/ | زېری |
| 好样的！好极了！真好！ | ［叹］ | /'sha:ba:s/ | شاباس |
| （表示高兴）妙极了，太好了，好极了 | ［叹］ | /wa:h/ | واه |
| 草原，荒原，荒漠，原野，沙漠 | 〈阿〉［阳］ | /sah'ra:/ | صحرا |
| 仰面朝天的，仰面躺着的 | ［形］ | /pər'məkhi/ | پړمخ |
| 考验 | ［阳］ | /azma'yəht/ | ازمېښت |
| 伯母，大娘；婶 | ［阴］ | /cha:'chi:/ | چاچي |
| 有力的，强有力的，强大的；有权力的，威严的 | 〈波〉［形］ | /zabar'dast/ | زبردست |

## 注释 تشريخ

1 لوی اختر 宰牲节，又称古尔邦节，阿拉伯语"عیدالاضحی یا عیدقربان"，意为献身，以宰牲献祭的意思。伊斯兰教历的十二月十号，即朝觐者麦加活动的最后一天为宰牲节。

2 کوچنی اختر开斋节，阿拉伯语"عیدالفطر"，在伊斯兰教历的十月一日，即斋月结束后第一天举行。

## 练习 تمرين

一、回答问题。

۱- اختر ته د زرغونې کره څوک راتلل؟

۲- ولې مسلمانان په لوی اختر کښې قرباني کوي؟

۳- په لوی اختر کښې کوم کوم څاروی قرباني کولی شي؟

۴- د زرغونې د کور خلکو اختر څنګه وکړ؟

۵- ته اختر څنګه کوې؟

二、填空题。

۱- ګل څانګې وویل، "چېرته چکر ته به ________ بوځې؟" پلار یې وویل، "نه، دا هم ټیک نه ده".

۲- د اختر نه یوه ورځ وړاندې نیکه، پلار او جمل کاکا د ________ راوستلو ته لاړل.

۳- یو ځل حضرت ________ خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم.

۴- د دې لویې پېښې په یاد کښې د دنیا ټول ________ په لوی اختر کښې د څاروو قرباني کوي.

۵- "واه واه، نن خو مور او چاچې زبردسته ډوډۍ کړې ده، ________ ښکلې بویونه دي.

三、单项选择题。

۱- اجمل څوک دی؟

(الف) د میروېس ورور (ب) د میروېس کاکا

(ج) د میروېس پلار (د) د میروېس اکازوی

۲- د اختر نه یوه ورځ وړاندې څوک د قربانۍ څاروو راوستلو ته لاړل؟

(الف) نیکه، پلار او اجمل (ب) نیا، پلار او جمل



此为试读，需要完整PDF请访问：www.ertongbook.com

ج) نیکه،بابا او جمل　　　　　　　　　　د) بابا ،پلار او اجمل

۳- دوی د قربانۍ دپاره څومره څاروی واخسته؟

الف) ۱　　　　　　　　　　ب) ۲

ج)۳　　　　　　　　　　د) ۴

۴- میروېس د قربانۍ څاروی ته څه راوړ؟

الف) صفا لوبه　　　　　　　　　　ب) د ونو تازه پاڼې

ج) خوراک　　　　　　　　　　د) پته نسته

۵- په لاندنی څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

الف) حصرت ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام ورور و.

ب) غوښه په درې کاسان وو ېشله شوه.

ج) غریبانو او ګاونډیانو د میروېس کور ته ډوډۍ وخوړله.

د) د قربانی نه وروسته نمونځ وشوه

四、翻译句子。

۱-دا یو دادا، دا دی درغه.

۲- نیکه او پلار یي د قربانۍ څاروی د کور په انګنړ کښې په ونو پوری وتړل.

۳- یو ځل حصرت ابراهیم علیه السلام خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم.


۴- که خدای ته منظوره وی نو ما به صبر کوونکی ومومې. ابراهیم علیه السلام چه دا ځواب واورېد ، نو خوشحاله شو.

۵- حضرت اسمعیل علیه السلام یي صحرا ته بوت او هلته یي پړمخ څملاوه.په اصل کښې د الله د طرفه په پلار او زوی دا یو ازمیښت و چه دواړه پکښې کامیاب شول.

五、用普什图语复述课文大意。

## دوهمه برخه

# کار او د نړۍ د زيار کښانو نړيوال جشن



د ژوند معنا کوښښ کول دي . بې کوښښه ژوند بې ثمره دي . هر څوک هڅه کوي او هر څوک په يوه کار لګيا دي . انسان کار کوي ، څاروي کار کوي ، ماشينونه کار کوي ، مور او پلار مو ستاسې د ژوند لپاره زيار کاږي . هو ، هر چېرې چې کار او کښښ دي ، هلته ژوندون ، برايي او مدنيت دي . هغه څوک چې زيار نه کاږي په نيستي ، غم او خپګان اخته کيږي .

خپل ټولګي ته وګورئ ، هر څوک چې ډېر کوښښ کوي او خپل درسونه لولي ، پخپل ټولګي کې تر ټولو ښې نمرې اخلي . مونږ پدې باور لرو چې تاسې پخپلو لوستو کې کوښښ کوي . که تاسې پروسږ کال پخپلو درسونو کې زيار نه واي ايستلاي ، دريم ټولګي ته بريالې کېدلاي نه شواي . دا ستاسې د زيار او کوښښ ډېر ښه دليل دي .

د دريم ټولګي درسونو ته په سر سري نظر مه ګورئ ، په دې ټولګي کې به تاسې ډول ډول درسونه ولولئ او نوي شيان به ترې زده کړئ . تاسې بايد دا خبرې په ياد کړئ :

بې زحمته راحت نشته زما وروره

که عزت غواړې زحمت درلره بويه

د زده کړې برسيره ، مونږ انسانان بايد کار کوو ، نو کار څه شي دي او انسان څنګه کار کوي ؟

يو کارګر چې يو شي وړي ، يو اس چې بګۍ کشوي او يا موټر چې کوم بار وړي ، دوي ټولو يو کار سر ته رسولي دي . د يو ځاي څخه د شي خوځيدل او کار سرته رسول ، عمل او ځواک ته اړه لري ، که چيرې په يو

شي قوه عمل وکړي او نوموړي شي له ځاي څخه و نه خوځيږي ، نو مونږ نشو ويلاي چې کار مو سر ته رسولاي دي . بلکې که تاسوو غواړئ چې يو لوي صندق له يو ځاي څخه بل ځاي ته کش کړي او له ځايه يې بې ځايه نه کړي ، نو کار مو سر ته نه دي رسولي . کله چې مونږ يو شي له يوه ځاي څخه بل ځاي ته وړو ، نو لومړی مونږ خپل بدن د غړو د ځواک څخه کار اخلو ، په دويم ګام کې يوه اندازه وقت مو د هغه په وړلو تيريږي . په دريم پړاو کې نوموړی شی د ځاي څخه بې ځايه کيږي . نو وايو چې مونږ يو کار سر ته رسولی دي چې هغه ته جسماني کار وايي .

د کار د سر ته رسولو څخه دمخه مونږ فکر کوو چې څنګه کار وکړو او د فکر له مخې د کار د سر ته رسولو لپاره څنګه ګټه واخلو او هغه ځاي ته چې کوم شی مونږ وړو بايد و يې ټاکو ؟ هغه وسيله چې د هغه شي په وړلو کې مرسته کوي ، هغه وټاکل شي ، تر دې ځايه پورې چې مونږ د خپل فکر څخه ګټه اخيستې ده ، نو يو فکری کار مو سر ته رسولی دی .




په نړۍ کې د کارګرانو دپاره يو جشن شته . د مې لومړۍ ورځ يا د ثور يوولسمه نېټه د کارګرانو نړۍ واله ورځ ده . د ثور د مياشتې يولسمه نېټه د مې د مياشتې د لومړې نيټې سره برابره ده . دغه ورځ د نړۍ ټول زيار کښان په مارشونو ، کنفرانسونه ، جشنونو او غونډو سره لمانځي .

د کارګر ورځ د نړۍ د کارګرې طبقې د پيوستون ورځ ده . په دغه ورځ د لومړي ځل لپاره د شيکاګو د ښار زيار ايستونکي ، د دولت او پانګه والو د ظلم او تيري په مقابل کې پاڅېدل او په ګډه يې ورته بد وويل ، خو پانګ والو ، د ډيرو ځمکو خاوندانو او ظالمانو په هغوې باندې وحشيانه يرغل وکړ . يو زيات شمېر زيارکښان يې په توپ او توپک ووژل . ليکن زيارايستونکو د مقابلې او مبارزې څخه لاس وا نه خيست او لا پسې يو موټی شول . درې کاله وروسته دوي پخپلو غوښتنو بريالي شول .

له همدې نېټې څخه وروسته د نړۍ زيارايستونکي د مې د مياشتې لومړۍ ورځ يا د ثور يوولسمه نېټه

د جشن په توګه لمانځي . دغه جشن د نړۍ د زيار ايستونکو د پيوستون او يووالي په نامه يادوي .

زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم دغه ورځ اوس په خاصو مراسمو سره لمانځل کيږي . بريالي او ژوندي دې وي د نړۍ ټول زيارايستونکي .

## 单词 لغتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| 行军；进军，长征 | ［阳］ | \ma:rsh\ | مارش |
| 人群；阶级 | 〈阿〉［阴］ | \taba'qa\ | طبقه |
| 野的，野蛮的，凶残的，凶猛的，残暴的 | ［形］ | \wahshiya:'na\ | وحشيانه |
| 攻击，突击，进犯，侵犯 | ［阳］ | \yar'ghal\ | يرغل |
| 可是，但是，然而 | 〈阿〉［副］ | \le'kin\ | لېکن |
| （轻便）马车 | ［阴］ | \ba 'gəi\ | بګۍ |
| 拖，拉，拽；拔出，抽出 | ［及］ | \kasha'wəl\ | کشول |
| 身体的，肉体的；体力的；物质的，有形的 | 〈阿〉［形］ | \jisma:'ni:\ | جسماني |
| 家畜，牲口，牲畜 | ［阳］ | \tsa:r'wai\ | څاروی |
| 表面上的，肤浅的；潦草的，粗心的；轻率的 | 〈波〉［形］ | \sarsa'ri:\ | سرسري |

## 注释 تشريح

阿富汗沿用伊斯兰历（即“海杰里”、阳历）。伊斯兰历纪元是从伊斯兰教创始人穆罕默德（“先知”）自麦加迁都至麦地纳的那一年（即公元621年）开始计算的，阿富汗历新的一年是从公历的每年3月21日开始的。因此，将阿历折合成公历时需加上621年2个月零21天。例如，阿历阳历的1354年7月9日即为公元1975年10月1

日；而阿历阳历1354年其阴历即为1395年。

## 练习 تمرين

单项选择题

۱- د کوښښ کول د معنا په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) د کوښښ کول معنا ژوند دی

(ب) د کوښښ کول معنا زیار ایستل دی

(ج) د کوښښ کول معنا کار کول دی

(د) د کوښښ کول معنا زده کول دی

۲- " بې زحمته راحت نشته زما وروره " څه معنا ؟

(الف) زما ورور یو بې زحمته هلک دی

(ب) زما وروره کوښښ نه کوي

(ج) زما وروره ، که ته کوښښ و نه کړې ، راحت به نه لرې

(د) زما وروه ، ته باید کوښښ وکړې !

۳- د کار سر ته رسول څه ته اړه لري ؟

(الف) کوښښ او وخت

(ب) سړی او مرسته

(ج) عمل او دماغ

(د) عمل او قوت

۴- جسمی کار او فکری کار څه توپیر لري ؟

(الف) فکری کار تر جسمی کار مهم دی

(ب) جسمی کار دمخه کېږي او فکری کار وروسته کېږي

ج) جمسی کار قوه ته اړه لري ، فکری کار فکراو هوښیاري ته اړه لري

د) هیڅ توپیر نه لري

**۵**- د کار په باب لاندنۍ خبرې کومه سمه ده ؟

الف) کار ته رسول یوازی قوه او عمل ته اړه لري

ب) هر څوک باید کار وکړي

ج) کار کول یو اسان کار دی

د) جمسی کار تر فکری کار اسان دی

**۶**- ولی د ثور یوولسمه نېټه د نړیوالو کارگران مارشونه ، کنفرانسونه او غونډونه کوي ؟

الف) د لمانځلو دپاره

ب) د مبارزې دپاره

ج) د پوښتنو د حلولو دپاره

د) د ساعت تیري دپاره

**۷**- " زیار ایستونکی " څه معنا ده ؟

الف) کارگران

ب) زیار کښ

ج) څوک چې زیار ایسي

د) د ځمکو خاوندان

**۸**- د زیار ایستونکی د مقابلې او مبارزې څومره وخت شوي دي ؟

الف) دری ورځې

ب) دری میاشتې

ج) دری کالونه

د) خبر نه یم

**۹**- ولی کارگرانو د دولت او پانگه والو په ضد مقابلې وکړې ؟



此为试读，需要完整PDF请访问：www.ertongbook.com